آریانه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

۱۲۲
شماره

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د ويانډ دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: جمادي الاول ۹مه، کال ۱۴۴۸ هجري قمري

د ولايتونو د کټګوريو پر اساس د صنعتي پارکونو د ځمکو لپاره قيمتونه وټاکل شول



۵

د رياست‌الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس د سعودي عربستان له سفير سره وکتل



۲

سرمقاله

خدمت به مردم؛ از حمایت اقشار آسیب‌پذیر تا تأمین رفاه اجتماعی

رسیدگی به نیازمندان، حمایت از کودکان بی‌سرپرست، کمک به عودت‌کنندگان و مدیریت حوادث طبیعی، از مسئولیت‌های مهم حکومت‌ها به شمار می‌رود؛ مسئولیت‌هایی که بیانگر توجه به رفاه مردم و بهبود زندگی جامعه است.
در سال ۱۴۴۷ هجری قمری، حمایت از اقشار آسیب‌پذیر و رسیدگی به خانواده‌های نیازمند، بخش مهمی از فعالیت ادارات امارتی و نهادهای همکار را تشکیل داده است. آمارهای ارائه‌شده از سوی نهادهای مسئول، از توزیع کمک‌های نقدی و غیرنقدی تا ارائه خدمات صحی، حمایت از کودکان، اسکان عودت‌کنندگان و بازسازی خانه‌های آسیب‌دیده را در بر می‌گیرد.
ثبت ۶۸۰ هزار و ۵۸۳ تن از یتیمان، بیوه‌زنان و معلولان و توزیع ۱۲ میلیارد و ۶۰۰ میلیون افغانی مساعدت نقدی به ۶۵۰ هزار تن از آنان، از اقدامات مهم در عرصه حمایت اجتماعی است. رسیدگی به قضایای هزاران کودک در معرض خطر و تلاش برای بازگشت آنان به محیط خانواده نیز بیانگر...

۲

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی

د کندهار په جهادي مدرسه کې وينا وکړه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د کندهار په جهادي مدرسه کې د وينا پرمهال وويل: علم د الله جل جلاله صفت دی، څوک چې علم حاصلوي، هغه الله جل جلاله ته نږدې کېږي، په علم سره د انسان کمال راځي، انبیاء علیهم السلام چې الله جل جلاله دنیا ته رالېږلي دي، هغوی ته يې علم ورکړی او جامعې ته يې د خلکو د تکمیل او اصلاح لپاره راولېږل.
عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل: الله پاک چې یو چاته د خیر اراده وکړي، نو الله تعالی يې د خیر په کار کې مصروف کړي او د دین پوهه ورکړي او تاسو الله په خیر کې مصروف کړي یاست، الله پاک تاسو ته د خیر اراده کړې ده چې الله جل جلاله په علم او ديني زده کړو کې مصروف کړي یاست، د الله تعالی شکر ادا کوئ، ځکه د ديني علم زده کړه جهاد في سبیل الله دی او دا د الله پاک یو خوښ صفت دی چې په چا کې يې پیدا کوي...

۶

هفته مخصوص حمایت از هموطنان نیازمند تجلیل شد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسمی که از سوی جمعیت هلال احمر افغانی به مناسبت هفته مخصوص حمایت از هموطنان نیازمند برگزار شده بود، اشتراک نمود.
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در سخنرانی خود، از مسئولان جمعیت هلال احمر افغانی سپاس‌گزاری کرد که هنگام وقوع حوادث قدرتی، به هموطنان آسیب‌دیده، افغان‌های برگشت‌کننده به کشور و کودکانی که به بیماری سوراخ قلب مبتلا هستند، مطابق نیازهای‌شان به‌موقع کمک کرده‌اند.
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، حمایت از هموطنان نیازمند را تنها مسئولیت جمعیت هلال احمر افغانی ندانست، بلکه از تمام هموطنان ثروتمند، تاجران، سرمایه‌گذاران، نهادهای خیریه و نهادهای...

۵

تدارکاتو کمېسيون د څه باندې اووه ميلياردې افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظورې کړې

۵

تفاهم‌نامه صادرات قالین افغانستان به بازارهای اروپا امضاء شد



۵

معاون اداری ریاست‌الوزراء با نمایندۀ خاص سرمنشی سازمان همکاری‌های اسلامی دیدار کرد

۲

د اړمنو خلکو په اړه د حکومت د ستاينې وړ اقدامات

د بېوزلو، يتيمانو، کونډو او بې‌وزله کورنيو ستونزو ته رسېدنه د اسلامي او انساني مسئوليتونو له مهمو برخو څخه ده. د اسلامي امارت هغه هڅې او اقدامات چې د اړمنو خلکو د مرستې، له محرومو کورنيو څخه د ملاتړ او مستحقو کسانو لپاره د ښه ژوند د شرايطو د برابرولو په موخه ترسره کېږي، هغه مهال لا ارزښتمن کېږي چې له اخلاص، عدالت، روښتيا او مسئوليت‌پالنې سره مل وي. هيله ده چې دا هڅې ورځ تر بلې پراخې شي او هېڅ اړمنه کورنۍ د مرستې او ملاتړ له نعمت څخه بې‌برخې پاتې نه شي. بېوزلو ته پاملرنه او د کمزورو لاسنيوی نه يوازې د الله تعالی د رضا لامل ګرځي، بلکې د خلکو او نظام ترمنځ د خواخوږۍ، ورورولۍ او باور د پياوړتيا سبب هم کېږي.

مولوي نعيم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز رئيس

سرمقاله

خدمت به مردم؛ از حمایت اقشار آسیب‌پذیر تا تأمین رفاه اجتماعی

...اهمیت حفاظت از این قشر آسیب‌پذیر است.
از سوی دیگر، بازگشت نزدیک به دو میلیون تن از کشورهای همسایه و منطقه، نیاز به خدمات بشردوستانه را افزایش داده است. کمک‌های نقدی، مواد غذایی و غیرغذایی، اسکان موقت عودت‌کنندگان و حمایت از خانواده‌های آسیب‌دیده از حوادث طبیعی، بخشی از اقدامات نهادهای مسئول و مؤسسات همکار در این سال بوده است.
همچنان، کمک به صدها هزار خانواده، اعمار و بازسازی خانه‌های رهایشی، تطبیق پروژه‌های وقایوی و پاک‌سازی ساحات آلوده به ماین، در کاهش مشکلات مردم و حفاظت از جان و مال آنان اهمیت دارد. ارائه خدمات صحی و درمانی به آسیب‌دیدگان و کودکان بیمار نیز نشان می‌دهد که حمایت بشردوستانه باید افزون بر تأمین نیازهای اولیه، سلامت و کرامت انسانی را در بر گیرد.
با این حال، موفقیت خدمات اجتماعی تنها با شمار کمک‌ها و حجم منابع اختصاص‌یافته سنجیده نمی‌شود؛ بلکه تأثیر آن‌ها بر زندگی مردم نیز اهمیت اساسی دارد. توزیع شفاف و عادلانه کمک‌ها، شناسایی دقیق افراد مستحق، نظارت بر روند خدمات‌رسانی و ارزیابی نتایج، از عواملی‌اند که اثربخشی این برنامه‌ها را افزایش می‌دهند.
همچنان، ایجاد فرصت‌های کاری، گسترش آموزش‌های فنی و حرفه‌ای، تقویت خدمات صحی و فراهم‌سازی زمینه خودکفایی اقتصادی، می‌تواند وابستگی خانواده‌های نیازمند به کمک‌های دوامدار را کاهش داده و مشارکت فعال آنان را در جامعه تقویت کند.
همکاری میان ادارات امارتی، مؤسسات خیریه و نهادهای امدادرسان نیز در این مسیر اهمیت دارد. هماهنگی مؤثر، تبادل معلومات و مدیریت درست منابع، از تکرار فعالیت‌ها جلوگیری کرده و زمینه دسترسی افراد مستحق به خدمات را بهبود می‌بخشد.
سرمقاله حاضر بر این نکته تأکید می‌کند که خدمت به مردم، به‌ویژه اقشار آسیب‌پذیر، زمانی به دستاوردی پایدار تبدیل می‌شود که کمک‌رسانی با شفافیت، عدالت، مسئولیت‌پذیری و برنامه‌ریزی مؤثر همراه باشد. توجه به نیازهای واقعی مردم و بهبود پایدار زندگی آنان، افزون بر کاهش مشکلات اجتماعی، به تقویت اعتماد عمومی، همبستگی اجتماعی و رفاه جامعه کمک می‌کند.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د امام ابوحنیفه (رح) پنځم عمومي او نړیوال نندارتون پرانیست

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، په کابل کې د افغانستان نړیوال نندارتون مرکز کې د امام ابوحنیفه (رح) پنځم عمومي او نړیوال نندارتون پرانیست.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نندارتون د پرانیستې مراسمو ته په وینا کې وویل، چې د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي د سوداکرۍ او پانګونې په برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځته، د سوداکرو پر وړاندې خنډونه راکم او د خصوصي سکتور لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړي، ځکه د خصوصي سکتور مشارکت د اقتصادي ودې لپاره اساسي اهمیت لري.
د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د امام ابو حنیفه (رح) پنځم عمومي او نړیوال نندارتون د افغانستان د اقتصادي ظرفیتونو د معرفې، د کورنیو تولیداتو د ملاتړ، د سوداکریزو اړیکو د پراختیا او د افغانستان او سیمې ترمنځ د مستقیمو سوداکریزو اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې یو مهم اقدام ګڼل کېږي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، ننني نندارتون د سوداکریزو محصولاتو او تولیداتو په برخه کې د افغانستان بالقوه ظرفیتونه په سمه توګه معرفي او د افغانستان د تولیدي، زراعتي، صنعتي محصولاتو، وچو او تازه میوو لوړ کیفیت ته په کتو به له هېوادونو سره د سوداکریزو اړیکو په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي او د افغانستان محصولاتو ته به سیمه ییز او نړیوال بازارونه پیدا کړي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: د سیمې او نړۍ هېوادونو ترمنځ سوداکریز مناسبات او اړیکې د تجارت په یو مهم اصل یعنې نسبي او مطلقو امتیازونو ولاړې دي، ترڅو د نړۍ هېوادونه د مختلفو تولیدي محصولاتو، صنایعو او تکنالوژۍ په برخه کې خپلې نسبي او مطلقې ارتیاوې له دې لارې په سمه توګه پوره کړي.
د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په وینا، په سیمه ییز او نړیوال تجارت کې د نړۍ هېڅ هېواد ته په کمه سترګه نه کتل کېږي، ځکه چې هر هېواد د تولیداتو او محصولاتو په برخه کې یا نسبي او یا هم مطلق امتیازونه لري، چې دا چاره د سیمه ییز او نړیوال تجارت اساسي ارتیا او لامل ګڼل کېږي...

۵

۱۴۴۷ کال: د ټولنیزو خدمتونو او اړمنو لاسنیوي برخه کې د اسلامي امارت هڅې

په ۱۴۴۷ هجري قمري کال کې د اسلامي امارت بېلابېلو ادارو او مرستندویه بنسټونو د یتیمانو، کونډو، معلولینو، راستنېدونکو کډوالو، بې‌وزلو کورنیو، قدرتي پېښو د زیانمنو او نورو اړمنو قشرونو د ملاتړ په موخه پراخې هڅې کړې دي. په دې موده کې میلیونونه کسان له نغدي، خوراکي، غیرخوراکي، روغتیایي او ټولنیزو خدمتونو برخمن شوي او د بېړنیو ارتیاوو د پوره کولو، بیا مېشتېدو او ټولنیز ملاتړ لپاره کې اقدامات ترسره شوي دي.
د شهیدانو او معلولینو وزارت د معلوماتو له مخې، په ټول هېواد کې ۶۸۰ زره او ۵۸۳ یتیمان، کونډې او معلولین ثبت شوي، چې ۴۰۳ زره او ۳۰۲ یتیمان، ۱۰۱ زره او ۶۵۲ کونډې او ۱۷۵ زره او ۶۲۹ معلولین پکې شامل دي. په همدې کال کې شاوخوا ۶۵۰ زره مستحقو کسانو ته د بانکي سیستم له لارې ۱۲ میلیارده او ۶۰۰ میلیونه افغانۍ نغدي مرستې وېشل شوې دي. همدارنګه، د خیریه بنسټونو او مؤسسو له لارې نږدې ۱۰۰ زره مستحقو کورنیو ته د ۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت خوراکي او غیرخوراکي مرستې رسېدلې دي.
د کار او ټولنیزو چارو وزارت هم په همدې موده کې د ماشومانو د ساتنې او ټولنیز ملاتړ په برخه کې مهم اقدامات ترسره کړي دي. د یاد وزارت تر ملاتړ لاندې ۱۰ زره او ۹۳۰ یتیم او بې‌سرپرسته ماشومان راغلي، چې ۵ زره او ۵۴۸ یې په امارتي روزنتونونو کې ساتل کېږي. دغه راز، د خطر سره مخ ۱۳ زره او ۷۷۴ ماشومانو قضیو ته رسېدنه شوې او ۷ زره او ۲۶۰ ماشومان، چې له بېلابېلو کوابنسونو سره مخ وو، بېرته له خپلو کورنیو سره یوځای شوي دي. په دې موده کې ۱۵۹۹ سوالګر ماشومان هم ثبت او تر ملاتړ لاندې نیول شوي او په مرکز او ولایتونو کې ۱۴ زره او ۳۱۱ ماشومانو ته په وړکتونونو کې د روزنې او پالنې اسانتیاوې برابرې شوې دي.
د یاد وزارت په همغږۍ، په ۲۰ ولایتونو کې له ۳۵۱ زرو څخه زیاتو بې‌سرپرستو او بې‌وزلو کورنیو ته خوراکي توکي، له ۲۳۷ زرو څخه زیاتو اړمنو کسانو ته نغدي مرستې او نږدې ۵۲ زره کورنیو ته غیرخوراکي توکي وېشل شوي دي. همدارنګه، له همکارو مؤسسو سره د حرفوي زده‌کړو، ماشومانو د ساتنې، روزنتونونو او ټولنیزو تأمیناتو په برخو کې ۶۰ هوکړه‌لیکونه لاسلیک شوي دي.
همدارنګه، د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون د خپلو کاري کمېټو له لارې د راستنېدونکو د بېړ د مدیریت او هغوی ته د لومړنیو او اساسي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي دي.
د راستنېدونکو کډوالو او قدرتي پېښو د زیانمنو شویو د ملاتړ لپاره د اقتصاد وزارت هم د مرستو د راټولولو په برخه کې فعالیت کړی دی. د دې وزارت په هڅو، له ایران او پاکستان څخه د ایستل شویو کډوالو د ملاتړ په موخه له کورنیو او بېړنیو بنسټونو څخه له ۲۱ میلیونه او ۹۹۵ زره امریکایي ډالرو او ۴۸ میلیونه افغانیو څخه زیاتې مرستې راټولې شوې دي.
همدارنګه، د کنړ، سمنګان، بلخ او ننګرهار ولایتونو د قدرتي پېښو د زیانمنو شویو لپاره له ۲۳ میلیونه او ۲۹۷ زره امریکایي ډالرو او ۹۳ میلیونه او ۲۲۷ زره افغانیو څخه زیاتې مرستې راټولې شوې دي. د کورنیو بې‌خایه شویو د ملاتړ لپاره هم له ۹۸ زره امریکایي ډالرو څخه زیاتې مرستې راټولې شوې دي.
د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د ژمي په موسم کې د راستنېدونکو د بېړنیو ارتیاوو د پوره کولو لپاره ۵۰ زره کورنیو ته نغدي مرستې او غنم وېشلي دي.
له بلې خوا، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د قدرتي پېښو د زیانمنو شویو د ملاتړ، بیا مېشتېدو او د خطرونو د کمولو په برخه کې پراخ اقدامات ترسره کړي دي. د یادې اداري د معلوماتو له مخې، له ۶۷۲ زره زیاتو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وېشل شوې او ۳۹۸ زره او ۴۵۴ کورنیو ته ټولټال یو میلیارد، ۹۹۰ میلیونه، ۵۸۲ زره او ۹۴۸ افغانۍ نغدي مرستې ورکړل شوې دي.
د زیانمنو کورنیو د بیا مېشتېدو لپاره ۴ زره او ۳۵۳ کورونه جوړ یا ورغول شوي، چې ۲ زره او ۱۳۸ یې نوي جوړ او ۲ زره او ۲۱۵ نور ترمیم شوي دي. همدارنګه، د ملګرو ملتونو او همکارو مؤسسو په همکارۍ د قدرتي پېښو د خطرونو د کمولو او د استوګنیزو سیمو، کرنیزو ځمکو، لارو او عامه تأسیساتو د ساتنې لپاره ۲۷۸ محافظتي او وقایوي پروژې پلې شوې دي، چې په پایله کې یې ۸۴ زره او ۹۳۳ کسانو ته مستقیم او غیرمستقیم کاري فرصتونه برابر شوي دي.
د راستنېدونکو د لنډمهالي استوګن لپاره د عمري، انځرکي، میلک او اسلام‌کلا په کمپونو کې ۶۳۰ معیاري او مجهزې خېمې جوړې شوې، چې ۱۰۸ زره راستنېدونکي پکې په موقتي ډول ځای پر ځای شوي دي. همدارنګه، له ۴۰ زره او ۸۶۵ راستنېدونکو کورنیو سره د نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستو په ګډون بېړنۍ بشري مرستې شوې دي.
افغاني سرې میاشتې ټولنې هم د قدرتي او غیرقدرتي پېښو د زیانمنو شویو، راستنېدونکو، بې‌ځایه شویو او نورو اړمنو کسانو د ملاتړ په برخه کې مرستې وراندې کړې دي. د یادې ټولنې د معلوماتو له مخې، په ۱۴۴۷ هجري قمري کال کې ۳۸۲ زره او ۵۶۱ زیانمنو کسانو ته خوراکي، غیرخوراکي او نغدي مرستې ټرلاسه کړې، شاوخوا ۷۰ زره کورنیو ته یو میلیارد او ۲۳۵ میلیونه او ۴۸۹ زره افغانۍ نغدي مرستې ورکړل شوې او ۲۲۳ زره او ۶۳۱ راستنېدونکو کورنیو ته پاخه خواړه او د څښاک اوبه برابرې شوې دي. دغه راز، ۱۷۹ زره او ۸۰۹ راستنېدونکي له روغتیایي خدمتونو برخمن شوي دي.
یادې ټولنې ۳۸ زره او ۹۰۱ بې‌ځایه شویو کورنیو ته نغدي او غیرنغدي مرستې هم رسولې دي، چې له دې ډلې ۲۰ زره او ۵۵۶ کورنیو ته ۳۲۴ میلیونه او ۷۰۰ زره افغانۍ نغدي مرستې ورکړل شوې دي. په بلخ، سمنګان او کنړ ولایتونو کې له ۱۸۰ زرو څخه زیاتو زلزله‌ځپلو کورنیو ته هم مرستې رسول شوې، چې پکې نغدي او غیرنغدي مرستې، چمتو خواړه او روغتیایي خدمتونه شامل دي.
د افغاني سرې میاشتې ټولنې د روزنتونونو له لارې ۸۱ زره او ۳۴۹ کسانو ته اړین خدمتونه وراندې شوي، ۳۲ زره او ۵۵۷ سوالګرو او ۶ زره او ۷۸۹ بې‌سرپرستو او اړمنو کورنیو ته نغدي مرستې ورکړل شوې دي. په روغتیایي برخه کې، د زړه سوري ناروغۍ لرونکي ۲۰۴ ماشومان د درملنې لپاره کورنیو او بېرنیو روغتونونو ته وړېژندل شوي، ۵ زره او ۶۲۷ کسانو ته رواني مشورې او درملنه وراندې شوې او ۷۵ سخت سوځېدلي ماشومان د درملنې لپاره جرمني ته لېږدول شوي دي. همدارنګه، د ۲۱۷ ماشومانو درملنه بشپړه شوې او ۸۷ نور ماشومان په کورنیو روغتونونو کې تر درملنې لاندې وو.
د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوږدو وزارت محتسبینو هم د ټولنیزو خدمتونو او د زیانمنو قشرونو د ملاتړ په برخه کې د ۱۴۴۷ هجري قمري کال په اوږدو کې ۱۲ زره او ۵۱۰ رواني ناروغان راټول او د درملنې او پالنې لپاره یې افغاني سرې میاشتې ټولنې ته وړېژندلي دي.
په ټوله کې، د یادو ادارو او مرستندویه بنسټونو د فعالیتونو شمېرې ښیي چې په ۱۴۴۷ هجري قمري کال کې د اړمنو او زیانمنو قشرونو د ملاتړ، راستنېدونکو ته د خدمتونو د وراندې کولو، د قدرتي پېښو د اغېزو د کمولو، بیا مېشتېدو او روغتیایي او ټولنیزو خدمتونو د پراختیا لپاره کې اقدامات ترسره شوي دي. د دغو هڅو اساسي موخه د اړمنو خلکو د ارتیاوو پوره کول، د زیانمنو کورنیو ملاتړ او د ټولنیزو خدمتونو د بېړ پیاوړتیا ده.

معاون اداری ریاست‌الوزراء با نمایندۀ خاص سرمنشی سازمان همکاری‌های...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء با محترم داکتر طارق علی بخیت معاون امور بشری، فرهنگی و اجتماعی سازمان همکاری‌های اسلامی (OIC) و نمایندۀ خاص سرمنشی آن سازمان برای افغانستان و هیأت همراه وی دیدار کرد.
در آغاز این دیدار، محترم مولوی عبدالسلام حنفی به مهمانان خوش‌آمدید گفت و از حضور آنان ابراز خرسندی نمود.
سپس، محترم داکتر طارق علی بخیت از فعالیت‌ها و اقدامات انکشافی انجام‌شده در افغانستان یاد کرد و با اشاره به تطبیق پروژه‌های مختلف از سوی سازمان همکاری‌های اسلامی در کشور، اطمینان داد که کمک‌های این سازمان در بخش‌های صحت و تعلیم و تربیه همچنان ادامه خواهد یافت.
در مقابل، محترم مولوی عبدالسلام حنفی از دستآوردهای امارت اسلامی افغانستان یاد کرد و از کمک‌های انسان دوستانۀ سازمان همکاری‌های اسلامی قدردانی نمود.
وی گفت این سازمان می‌تواند در تقویت روابط میان کشورهای اسلامی و سایر کشورهای جهان نقش فعال‌تری ایفا نماید.
معاون اداری ریاست‌الوزراء همچنان بر ادامۀ همکاری‌های کشورهای اسلامی در بخش‌های صحت، تعلیم و تربیه و تهیۀ مسکن برای مهاجرین تأکید کرد.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی همچنین خاطرنشان ساخت که لازم است سازمان همکاری‌های اسلامی و سایر نهادهای مسئول در زمینۀ فراهم‌سازی کشت بدیل مواد مخدر با دهاقین همکاری‌های لازم را انجام دهند.
وی در پایان تأکید کرد که امارت اسلامی افغانستان خواهان برقراری روابط حسنه با همۀ کشورهای جهان است.

د ریاست‌الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د سعودي عربستان له سفیر...

...د ریاست‌الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس، محترم ډاکټر ملا عبدالواسع، د افغانستان لپاره د سعودي عربستان سفیر محترم فیصل بن طلق البقمی، سره په ارګ کې وکتل. په دې کتنه کې، د ریاست‌الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د سعودي عربستان سفیر ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د نوموړي د فعالیتونو او له وروستیو زلزله ځپلو افغانانو سره د سعودي عربستان د مرستو قدرداني وکړه.
همدارنګه، په دې لیدنه کې د افغانستان اسلامي امارت او سعودي عربستان ترمنځ د دوستانه اړیکو د لا پیاوړتیا، د متقابلې همکارۍ د پراختیا او د دواړو هېوادونو ترمنځ د مثبتو اړیکو د دوام په اړه بحث او خبرې وشوې.
محترم ډاکټر ملا عبدالواسع، په پای کې څرګنده کړه، افغانستان او سعودي عربستان له پخوا راهیسې له یو بل سره ښې اړیکې لري او اسلامي امارت تل هڅه کوي له ټولو هېوادونو سره دوستانه روابط وساتي، د متقابل درناوي پر بنسټ اړیکې پیاوړې او په بېلابېلو برخو کې له نورو هېوادونو سره همکاري پراخه کړي.



Issue #122

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

Procurement Commission Approves 16 Projects Worth More Than AFN 7 Billion

The regular meeting of the Procurement Commission, chaired by the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, was held at the Marmarin Palace. A total of 34 projects were presented for discussion. Following comprehensive discussions, 16 projects worth more than AFN 7 billion were approved, while the necessary amendments to nine other projects were also approved.
Five projects were referred for re-bidding for the second time, and three projects were reinstated. The contract for one project was terminated due to delays in the implementation of the works, and the company was referred to the Debarment Committee.
The approved and amended projects include the concrete paving of the parking area at the Islam Qala Border Customs in Herat; installation of a water pipeline from Qargha Dam to the...ContP#4

Afghanistan and Iran Sign 28 Trade MoUs



A business networking conference between the private sectors of Afghanistan and Iran was held in Kabul by the Afghanistan Chamber of Commerce and Investment.
During the conference, the private sectors of Afghanistan and Iran signed 28...ContP#4

MoU Signed to Export Afghan Carpets to European Markets

On the sidelines of the Fifth Imam Abu Hanifa National and International Exhibition, a Memorandum of Understanding was signed between the Afghanistan Carpet Producers and Exporters Union and the Austrian Company Orientap. The agreement is expected to create opportunities for increasing Afghan carpet exports to European markets.
The Deputy Head of the Afghanistan Chamber of Industry and Commerce described the carpet industry as a reflection of the identity and story of the Afghan people and one of the country's major export products. He called the signing of the MoU...ContP#4

Survey Begins for Construction of 10 Dams and Electricity Generation in Panjshir



Local officials in Panjshir say that, following an order from the Supreme Leadership of the Islamic Emirate of Afghanistan, survey work has officially begun for the construction of 10 dams and electricity generation projects in different parts of the province...ContP#4

Various Projects Worth $2 Million Launched in Spin Ghar, Nangarhar

Several water management and irrigation projects worth nearly $2 million have been launched in Spin Ghar district of Nangarhar province.
The projects include the construction of 10 check dams, three water reservoirs,...ContP#4

Trade MoUs Between Afghanistan, Central Asia and India Signed

The second business networking program between the Afghanistan Chamber of Commerce and Investment, Central Asian countries and India was held in Kabul.
A total of 22 Memorandum of Understanding (MoUs) were signed during the program, with a combined value of more than $400 million.
According to officials from the Afghanistan Chamber of Commerce and Investment, the largest MoU signed during the program was worth $103 million.
At the program, the head of the Uzbekistan Chamber of Commerce said that 15 delegations had exchanged visits between the two countries during the current year. He said these visits, including exchanges at the highest levels, had helped strengthen economic ties between the two countries and led to the signing of agreements worth $3 billion.
The Kyrgyz ambassador also described the program as important for expanding economic cooperation between Afghanistan and other countries. He called on Afghan investors to invest in national projects in Kyrgyzstan as well.
Source: TOLOnews

Clean Drinking Water Provided to Nearly 2,500 Families in Nuristan



Work on 10 water supply networks has been completed in six districts of Nuristan province, including the provincial capital, Parun, and the networks have been handed over for use.
The Director of Rural Rehabilitation and Development in Nuristan told Bakhtar News Agency that the networks were built in Parun, Want, Wama, Mandol, Doab, Kamdesh and Barg-e Matal districts with financial support from UNICEF, at a cost of 30 million Afghanis.
The networks have provided clean drinking water to 2,447 families in these districts...ContP#4

Road and Drainage Construction Worth More Than 21 Million Afghanis Begins in Khost

The Khost Municipality has begun road and drainage construction work in the city's first and third districts at a cost of 21,197,905 Afghanis.
The technical and professional affairs officer of Khost Municipality told Bakhtar News Agency that the project is being implemented in the city's first and third districts. It includes the construction of 550 meters of road and 900 meters of drainage channels.
A resident of Khost city told Bakhtar News Agency that the construction of the road would help reduce traffic congestion, improve the city's appearance and make it easier for people to travel between different parts of the city.
Khost Municipality has planned up to 30 different construction projects this year to develop the city, improve infrastructure standards and enhance its appearance. The projects are expected to help resolve many of the problems faced by city residents.
Source: Bakhtar News Agency

Procurement Commission Approves 16 Projects Worth More Than...

...Badam Bagh Research Garden in Kabul Province; construction of an 11-kilometer asphalt road from Abazak to Siah Bini village in Mohammad Agha District of Logar Province; rehabilitation of a 71-kilometer road from Broghil in Wakhan District of Badakhshan Province to Bzai Gonbad in the Little Pamir; provision and procurement of technological equipment required by the Ministry of Transport and Aviation; construction of a terminal in eastern Kabul; construction of general hospitals in Kahmard District of Bamyan, Lawlash District of Faryab, and Argun District of Paktika; construction of the 350-bed Bost Hospital in Helmand Province; procurement of medical equipment and electricity-related equipment; construction of a road from Ghazi Stadium to Cement Khana in Kabul; road construction in the Company area; and construction of the second-lane road from Spin Kali to Qala-e Wazir. The approved projects will be financed by the Islamic Emirate of Afghanistan.

MoU Signed to Export Afghan Carpets to European...

...one of the achievements of the exhibition.
The head of exhibition affairs at the Ministry of Industry and Commerce said the agreement aims to strengthen coordination between the private sector and promote Afghanistan's production capacity. He also stressed the importance of implementing the agreement successfully.
Officials noted that more than one million women in Afghanistan work in the carpet industry. They stressed the need to support domestic production by preventing the import of machine-made and foreign carpets and increasing tariffs on them.
According to officials, more than one million women are currently employed in the carpet industry, and the number of carpet factories operating in Afghanistan has also increased. They said that around 90 per cent of Afghan carpets are exported to foreign countries.
Several carpet traders and manufacturers who displayed their products at the exhibition also described the event and the signing of the MoU as effective steps towards introducing Afghan carpets to international markets, expanding export opportunities and supporting the growth and development of the carpet industry in the country.
Source: Bakhtar News Agency

Survey Begins for Construction of 10 Dams and Electricity Generation in...

...The Media Office of the Panjshir Provincial Governor said in a press release that the survey was launched by a technical and engineering team from the Ministry of Energy and Water, in coordination with the provincial administration and relevant departments.
According to the source, the surveys will be carried out at Bamwardar Pass, Nodang, Shaniz and Qala-e Talkha, as well as in Shotul, Paryan and Hisa-e Awal districts and the center of Panjshir. After assessing the available potential, practical work on electricity generation projects will begin.
The source added that a private Turkish company had previously surveyed the Bamwardar area of Paryan district and identified the potential to generate 10 megawatts of electricity.
According to the press release, 1,000 jeribs of land have also been finalized for the construction of industrial parks in Panjshir. The electricity generated by these dams will meet the needs of local residents and industrial parks in the province.
Source: Pajhwok

Various Projects Worth $2 Million Launched in Spin Ghar,...

...three diversion structures and three canals, as well as the rehabilitation of one Karez, a traditional underground water channel. Officials say that once the projects are completed, approximately 305 hectares of agricultural land will be irrigated, and more than 1,200 families will benefit directly from improved water management and agricultural activities.
Source: Pajhwok

Rehabilitation of the 64-Kilometre Road to the Sheikh Abu Nasr Farahi Border Crossing Begins in Farah

Officials from the Public Works Directorate in Farah province say that rehabilitation work has begun on the 64-kilometre road leading to the Sheikh Abu Nasr Farahi border crossing.
The Director of Public Works in Farah told Bakhtar News Agency that the road extends from the zero point of the Sheikh Abu Nasr Farahi border crossing to Pusht Koh district. The road is 64 kilometers long and 10 meters wide and is being comprehensively rehabilitated by Iran.
According to the director, the work is expected to be completed within four months, after which the road will be opened for use.
Meanwhile, the head of the contracting company has assured officials that the project will be completed to a good standard. He said the company was ready to rehabilitate the road in a shorter period if the Iranian side provided timely assistance with asphalt, fuel and culverts.
Source: Bakhtar News Agency

Clean Drinking Water Provided to Nearly 2,500 Families in...

...He added that the project also provided employment opportunities for 10,000 local people. Meanwhile, work is underway on 10 additional water supply networks.
Local residents welcomed the completion of the networks, saying that they would help resolve existing problems in accessing clean drinking water.
Source: Bakhtar News Agency

Afghanistan and Iran Sign 28 Trade...

...Memorandum of Understanding (MoUs) worth $451.8 million in various economic sectors.
The head of the Afghanistan Chamber of Commerce and Investment said that economic cooperation between Afghanistan and Iran should not be limited to buying and selling goods. Instead, it should also expand into the energy sector and joint investment projects. He added that Afghanistan offers good investment opportunities and that business networking meetings should lead to practical results.
Meanwhile, the deputy head of the Iran Chamber of Commerce said that Afghanistan and Iran have wide opportunities to expand cooperation in electricity, petroleum products and industrial goods.
The conference was held on the sidelines of the Fifth Imam Abu Hanifa National and International Exhibition. It aimed to expand trade and investment ties between Afghanistan and Iran.
Source: TOLOnews

هفته مخصوص حمایت از هموطنان نیازمند...

...بشردوستانه بین‌المللی نیز خواست که با این جمعیت کمک و همکاری عملی نمایند.
معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء گفت که شمار زیادی از هموطنان به دلیل خشک‌سالی‌های اخیر در کشور، سیلاب‌های موسمی، زلزله‌ها و بازگشت اجباری هزاران خانواده به کشور، با بحران شدید اقتصادی و بشری روبه‌رو شده اند و رسیدگی به این مشکلات به توجه جدی نیاز دارد.
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از هیأت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) خواست که با درنظرداشت واقعیت‌های عینی افغانستان، گزارش‌های تحلیلی را به‌گونه بی‌طرفانه نشر کند.
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود که عادلانه نیست دستآوردهای اقتصادی و امنیتی افغانستان در گزارش‌های منتشرشده از سوی یوناما نادیده گرفته شود و این نهاد، مانند یک طرف مقابل و متخاصم، تنها به جنبه‌های منفی بپردازد.
معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از مسئولان جمعیت هلال احمر افغانی خواست که هنگام توزیع کمک‌ها و شناسایی افراد مستحق، شفافیت را رعایت کنند تا کمک‌ها به‌گونه عادلانه توزیع شود.

د ولایتونو د کټګوریو پر اساس د صنعتي پارکونو د ځمکو لپاره قیمتونه...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوښتي غونډه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه.
غونډې ته د ولایتونو د کټګوریو پر اساس د صنعتي پارکونو د ځمکو د قیمتونو تاکلو په تړاو د تاکل شوې کمېټې راپور وړاندې او تایید شو.
د راپور پر اساس، د لومړۍ کټګورۍ ولایتونو لپاره د صنعتي پارکونو د هر مترمربع ځمکې قیمت ۱۵۰ افغانۍ، د دویمې کټګورۍ ولایتونو لپاره ۱۰۰ افغانۍ او د درېیمې کټګورۍ ولایتونو لپاره ۵۰ افغانۍ وټاکل شو. همداراز، د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته د تعرفې کمېټې د ۱۴۰۴ کال د وروستیو شپږو میاشتو راپور هم وړاندې او تایید شو.
د راپور له مخې، د تعرفې کمېټې د ۱۴۰۴ کال په وروستیو شپږو میاشتو کې د هېواد د داخلي بازارونو د وضعیت له ارزونې وروسته پر هغو وارداتي توکو په تدریج سره تعرفه زیاته کړې، چې هغه په کور دننه تولید او د داخلي بازارونو اړتیا پوره کولی شي.
اقتصادي کمېسیون د کورنیو تولیداتو د ملاتړ، د صنعت د پیاوړتیا او ځان بسیایۍ ته د نړۍ کچې په موخه د تعرفې کمېټې فعالیتونه وستایل او پرېکړه یې وکړه، چې په بازارونو کې د قیمتونو د کنټرول کمېټه دې هم خپل مسئولیت په جدي ډول ترسره او وخت پر وخت دې راپور د تعرفې کمېټې له لارې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.
د غونډې په پای کې د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې او په اړه یې اړوندو ادارو ته لازمې لارښوونې وشوې.
پورته پرېکړې د نهایي تصمیم نیونې لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

تفاهم‌نامه صادرات قالین افغانستان به بازارهای اروپا...

...در حاشیه پنجمین نمایشگاه عمومی و بین‌المللی امام ابوحنیفه رحمه‌الله، تفاهم‌نامه میان اتحادیه مولدین و صادرکنندگان قالین افغانستان و شرکت اتریشی اورینتاپ به امضا رسید که بر اساس آن، زمینه صادرات بیشتر قالین‌های افغانستان به بازارهای اروپا فراهم خواهد شد.
معاون اتاق صنعت و تجارت افغانستان صنعت قالین را بازتاب‌دهنده هویت و روایت مردم افغانستان و یکی از اقلام عمده صادراتی کشور خواند و امضای این تفاهم‌نامه را از دست‌آوردهای این نمایشگاه عنوان کرد.
رئیس تدویر نمایشگاه وزارت صنعت و تجارت نیز هدف از این تفاهم‌نامه را تقویت هماهنگی میان بخش خصوصی و معرفی ظرفیت‌های تولیدی افغانستان عنوان کرد و بر تطبیق موفقانه آن تأکید ورزید.
مسئولان با اشاره بر اینکه بیش‌از یک میلیون زن در افغانستان در صنعت قالین فعالیت دارند، تاکید کردند که به منظور حمایت از تولیدات داخلی، بر جلوگیری از واردات قالین‌های ماشینی و خارجی و افزایش تعرفه بر آن‌ها تاکید کردند.
به گفته مسئولان، هم اکنون بیش از یک میلیون زن در صنعت قالین مصروف کار بوده و فعالیت فابریکه‌های قالین در داخل افغانستان نیز افزایش یافته است. آنان می گویند، حدود ۹۰ درصد قالین افغانستان به خارج از کشور صادر می‌شود.
هم‌چنان شماری از تاجران و صنعت‌کاران قالین که تولیدات خود را در این نمایشگاه به نمایش گذاشته‌اند، برگزاری این نمایشگاه و امضای تفاهم‌نامه یادشده را گامی مؤثر در معرفی قالین‌های افغانی به بازارهای بین‌المللی، گسترش فرصت‌های صادراتی و حمایت از رشد و توسعه صنعت قالین در کشور دانستند.
منبع: باختر

د ننګرهار په سپین‌غر کې د دوه میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت بېلابېلې پروژې پیل شوې

د ننګرهار په سپین‌غر ولسوالۍ کې د نړۍ دوه میلیونه امریکایي ډالرو په مالي لګښت د اوبو مدیریت او اوبولګولو ګڼې پروژې پیل شوې. په دغو پروژو کې د لسو چکډیمونو، درېیو اوبو زېرمتونونو، درېیو سربندونو او درېیو کانالونو جوړول او د یوه کاریز بیارغونه شامل دي. مسئولین وایي، د یادو پروژو په بشپړېدو سره به شاوخوا ۳۰۵ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه شي او له ۱۲۰۰ څخه زیاتې کورنۍ به د اوبو د مدیریت او کرنې په برخو کې تړې مستقیمه ګټه واخلي.
منبع: پژواک

فراه کې د شیخ اوبونصرفراهي بندر د ۶۴ کیلومتره سړک د بیا رغولو چارې پیل شوې

د فراه ولایت د ټولګټو ریاست مسئولین وایي چې د یاد ولایت د شیخ اوبونصرفراهي بندر د ۶۴ کیلومتره سړک د بیا رغولو چارې پیل شوې.
د فراه د ټولګټو رئیس باختر اژانس ته ویلي چې دغه سړک د شیخ ابونصر فراهي بندر له صفري نقطې څخه د پشتکوه ولسوالۍ پورې غځېدلی، چې ۶۴ کیلومتره اوږدوالی او ۱۰ مټره سور لري، چې د ایران له لورې په اساسي ډول بیارغول کېږي. د نوموړي په وینا، په پام کې ده، چې د یاد سړک چارې به په ۴ میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. ورته مهال د قراردادي شرکت رئیس د پروژې د چارو د ښه کیفیت ډاډ ورکړی او ویلي یې دي، چې که ایراني لوری د قیر، تېلو او پلچکونو په برخه کې پر وخت همکاري وکړي، دوی چمتو دي چې دغه سړک په لنډ وخت کې بیا ورغوي.
منبع: باختر

نورستان کې ۲۵۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې

د نورستان ولایت د مرکز پارون په ګډون شپږو ولسوالیو کې د اوبو رسولو د ۱۰ شبکو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.
د یاد ولایت د کلیو، بیارغوني او پراختیا رئیس باختر اژانس ته ویلي، چې دغه شبکې د مرکز پارون په ګډون وانټ، واما، منډول، دواب، کامدېش او برګمتال ولسوالیو کې د یونیسف په مالي ملاتړ د ۳۰ میلیونه افغانیو په لګښت جوړې شوې، چې پر مټ یې د یادو ولسوالیو ۲ زره ۴۴۷ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې دي.
هغه زیاته کړې چې په دغه پروژه کې د سیمې ۱۰ زره کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه او دا مهال د اوبو رسولو ۱۰ نورې شبکې هم تر کار لاندې دي.
ورته مهال د سیمې اوسېدونکو د یادو شبکو په جوړېدو خوښي څرګنده کړې او ویلي یې دي، چې د یادو شبکو په جوړېدو سره به یې د څښاک پاکو اوبو په برخه کې شته ستونزې هوارې شي.
منبع: باختر

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د امام ابوحنیفه (رح) پنځم عمومي او نړیوال نندارتون...

...محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپله وینا کې وویل، د افغانستان اسلامي امارت نه یوازې د اقتصادي ودې او پراختیا په برخه کې نیمګړي فصلونه تکمیلوي، بلکې د اقتصادي بنسټونو د رغونې په برخه کې یې په کمو امکاناتو سره داسې نوي فصلونه شروع کړي دي، چې د هېواد موجوده او راتلونکي نسلونه به پرې افتخار کوي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: د واخان اقتصادي او سوداګریز سرک پرانیستل سو، دا سړک چین د افغانستان له لارې د اروپا له بازارونو سره تر ټولو په لنډه لار نښلوي او افغانستان د سیمه ییز ټرانزیټ او سوداګرۍ په یو مصروف مرکز بدلوي، چې د حق العبور عاید ترڅنګ به په دې مسیر کې په تدریجي ډول سترې او مهمې زیربناوې ورغول سي.
د امام ابوحنیفه (رح) نندارتون مراسمو کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ځرګنده کړه چې د سیمه ییز اتصال په برخه کې د اسلامي امارت هڅې د دې ښکاره ثبوت دی، چې مورږ خپل سرحدونه د تهدید پر ځای د ستراتیژیک اقتصادي مشارکت د وصل په نقطو بدلوو او دا زمورږ د لومړیتوبونو په سر کې قرار لري.
د امام ابوحنیفه (رح) پنځم عمومي او نړیوال نندارتون کې په ښه‌ایلو برخو کې سلګونو کورنیو شرکتونو په شاوخوا ۶۰۰ غرفو کې د خوراکي توکو، درملو، لبنیاتو، ساختماني توکو، لاسي صنایعو، غالیو، پلاستیک، اوسپنې وېلې کولو او کنو نورو برخو کې خپل صنعتي تولیدات او کرنیز محصولات نندارې ته وړاندې کړي دي. یاد نندارتون به اووه ورځې دوام وکړي.

تدارکاتو کمېسیون د څه باندې اووه میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۶ پروژې...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون نوښتي غونډه، په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه.
غونډې ته ۳۴ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې. له هرارخیز بحث وروسته د څه باندې اووه میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۶ پروژې منظورې شوې او په نهو نورو پروژو کې لازم تعدیلونه منظور شول. پنځه پروژې دویم ځلي داوطلبۍ ته وړاندې او درې پروژې اعاده شوې. د یوې پروژې قرارداد په کارونو کې د ځنډ له امله فسخه او شرکت یې د محرومیت کمیټې ته معرفي شو.
په منظور شوبو او تعدیل شوبو پروژو کې د هرات د اسلام کلا د سرحدي ګمرک د پارکینګ د کانکریټ اچونې، د کابل ولایت بادام باغ تحقیقاتي باغ ته له قرغې بند څخه د اوبو د پایپ ټهرولو، د لوګر ولایت د محمد اغې ولسوالۍ له ابازک څخه تر سیاه‌بیني کلي پورې د ۱۱ کیلومتره اسفالټ سړک، د بدخشان واخان ولسوالۍ له بروغیل څخه تر بزای ګنبد پامیر خورد پورې د ۷۱ کیلومتره سړک د بیارغونې، د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت د اړتیا وړ ټکنالوژیکو وسایلو د چمتو کولو او تدارک، د کابل ښار په ختیځ کې د ترمینل جوړولو، د بامیان په کهمرد ولسوالۍ، د فاریاب په لولاش ولسوالۍ او د پکتیکا په ارګون ولسوالۍ کې د عمومي روغتونونو جوړولو، د هلمند ولایت د بست ۳۵۰ بسترېز روغتون جوړولو، روغتیایي وسایلو، برېښنا اړوند وسایلو، کابل کې د غازي سټیډیوم څخه تر سیمنټ خانې پورې د سړک جوړولو، کمپنۍ ساحه کې د سړک جوړولو او له سپین کلي څخه تر وزیر کلا پورې د دویم لین سړک جوړولو پروژې شاملې دي.
منظورې شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

امضای ۲۸ تفاهم‌نامهی تجارتی میان افغانستان و ایران

همایش تواصل تجارتی میان بخش‌های خصوصی افغانستان و ایران از سوی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری در کابل برگزار شد.
بخش‌های خصوصی افغانستان و ایران در این همایش تواصل تجارتی، ۲۸ تفاهم‌نامه به ارزش ۴۵۱.۸ میلیون دالر در بخش‌های گوناگون اقتصادی امضا کردند.
رئیس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان، می‌گوید که هم‌کاری‌های اقتصادی افغانستان و ایران نباید تنها به خریدوفروش محدود بماند، بل باید در بخش‌های انرژی و سرمایه‌گذاری‌های مشترک نیز گسترش یابد. او می‌افزاید که افغانستان فرصت‌های خوبی برای سرمایه‌گذاری دارد و نشست‌های تواصل تجارتی باید به نتیجه‌های عملی منتج شوند.
در همین حال، نایب رئیس اتاق تجارت ایران می‌گوید که افغانستان و ایران زمینه‌های گسترده‌ای برای گسترش هم‌کاری‌ها در بخش‌های برق، مواد نفتی و کالاهای صنعتی دارند.
این همایش در حاشیه پنجمین نمایش‌گاه ملی و بین‌المللی امام ابوحنیفه، با هدف گسترش پیوند تجارتی و سرمایه‌گذاری میان افغانستان و ایران برگزار شده است.
منبع: طلوع نیوز

ارگ نامه

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

امضای تفاهم‌نامه‌های تجاری افغانستان، آسیای مرکزی و هند به امضاء رسید

دومین برنامه تواصل بازرگانی میان اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری‌افغانستان، آسیای مرکزی و هند در کابل برگزار شد. در این برنامه ۲۲ تفاهم‌نامه به امضا رسیده و مجموع ارزش تفاهم نامه‌های امضا شده در دومین برنامه این تواصل بازرگانی بیش از ۴۰۰ میلیون دالر بوده است.

به گفته مسئولان اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری‌افغانستان ارزش بلند ترین تفاهم‌نامه در این برنامه ۱۰۳ میلیون دالر بوده است.

در این برنامه، رئیس اتاق تجارت اوزبیکستان گفت که در سال جاری میلادی پانزده هیات میان دو کشور تبادله شده که به باور او این رفت‌و آمدها در سطح مقام‌های عالی‌رتبه در گسترش پیوندها اقتصادی دو کشور تاثیر گذار بوده است و منتج به امضای توافق‌نامه‌ها به ارزش سه‌میلیارد دالر شده است.

سفیر قرغیزستان نیز این برنامه را در گسترش همکاری های اقتصادی کشورها با افغانستان تاثیر گذار خوانده و از سرمایه‌گذاران افغانستان خواست که در پروژه‌های ملی قرغیزستان هم سرمایه‌گذاری کنند.

منبع: طلوع نیوز

حل‌وفصل ده‌ها مورد خصومت و اختلاف میان مردم در مربوطات ولایت کابل



در نتیجه تلاش ها و میانجیگری های مسئولان ولسوالی پغمان، با همکاری علمای کرام، شورای علما، مصلحین، متنفذین قومی و بزرگان محل، در این اواخر، ده ها قضیه خصومت، دشمنی و منازعات مختلف میان خانواده ها و اهالی محل حل‌وفصل شده و طرف های درگیر به صلح و آشتی رسیده‌اند.

رهبری مقام ولایت کابل، حل‌وفصل منازعات و خصومت های دیرینه را گامی مهم در راستای تأمین امنیت، تحکیم وحدت اجتماعی، جلوگیری از خشونت و تقویت روحیه برادری و همدلی میان مردم دانسته و بر تداوم تلاش ها برای حل مسالمت آمیز اختلافات تأکید می ورزد.

بر اساس معلومات، ۱۹ قضیه مهم خصومت و دشمنی که برخی از آن ها سابقه چندین دهه داشته که طی آن شماری از افراد جان باخته یا زخمی شده بودند، از طریق میانجیگری و مصالحه حل‌وفصل گردیده است. از جمله این موارد، حل دشمنی ۴۰ ساله میان دو خانواده در ولایت ننگرهار، خصومت ۳۰ ساله در منطقه کاریزک، دشمنی ۲۷ ساله میان سه خانواده در منطقه قلعه حیدر و خصومت ۱۴ ساله در قریه اورياخيل ولسوالی پغمان می باشد.

همچنان، در این مدت، ۱۹۰ قضیه دیگر شامل اختلافات خانوادگی، مشکلات مالی، منازعات مربوط به زمین و میراث و سایر اختلافات میان اهالی، با همکاری مسئولان ولسوالی پغمان، علمای کرام و متنفذین قومی مورد رسیدگی قرار گرفته و حل‌وفصل شده است.

افزون بر آن، ۱۱ قضیه مربوط به منازعات و درگیری های خانوادگی نیز از طریق نشست ها و میانجیگری های جداگانه به مصالحه انجامیده است.

رهبری مقام ولایت کابل، نقش علمای کرام، مصلحین، متنفذین قومی و بزرگان محل را در حل اختلافات و جلوگیری از گسترش منازعات مهم دانسته و بر تقویت هماهنگی میان مسئولان محلی و اقشار مختلف جامعه برای تأمین صلح و آرامش تأکید می‌نماید.

منبع: دفتر مطبوعاتی مقام ولایت کابل

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د کندهار په جهادي مدرسه کې...

...تعليم او تربيه او د علم زده کړه فرض او ضروري ده، د دې لپاره چې فسادونه ورک شي او اصلاح راشي، پر خلکو او پر علماء کرامو واجب دی چې د تعلیم او تعلم او د ديني زده کړو سلسله جاري وساتي چې په دې طريقې سره به دين پاته وي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی زیاته کړه: علماء کرام د انبیاء کرامو وارثین دي، د الله پاک حکمونه، فیصلې او شریعت د علماء کرامو له لارې څخه راځي او د خلکو اصلاح په علماء کرامو سره کیږي، کوښښ وکړئ نیتونه اصلاح کړئ او علم په دې نیت حاصل کړئ چې د الله تعالی دین وپیژنئ او وروسته د الله پاک په دین عمل وکړئ، په علم کې د دنیا غرض مه نیسئ، د دې لپاره علم مه کوئ چې یو څوک تاته په دنیا کې قدر او عزت درکړي او یا یو منصب په پیدا کړئ، علم د دنیا لپاره مصرف نه کړئ، کوم فضیلت او شرف چې الله پاک د عالم لپاره ذکر کړی دی، دا هغه علم دی چې د عمل لپاره دی او په علم کې د دې نیت وکړئ چې کوم علم تاسو ته حاصل شو، تاسو به پې نورو ته رسوئ، علم ستاسو پر ذمه باندې یو امانت دی، علم مه پټوئ، د دین مسئله مه پټوئ، په هر حالت کې تاسو د دین مسائل بیانوئ.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د خپلې وینا په آخر کې طالبانو ته په خطاب کې وویل: درسونه مه پریږدئ، د علم د زیادت کوښښ کوئ چې علم مو زیات شي، د بل چا څخه د علم په حاصلولو کې کبر او لویې ونه کړئ، په علم کې بُخل ونه کړئ، نورو ته فائده رسوئ، کله چې فارغه شئ ستاسو لپاره ښه زمینه د فقهي مجلسونو برابره شوې ده شرکت پکې کوئ، په یادو مجالسو کې به ستاسو د علم څخه یو څوک ګټه واخلي او یا به تاسو د یو چا د علم څخه ګټه واخلئ، د علم په مجلسونو کې کښېنئ، تاسو ته ګټه رسوي، دنیايي منصبونه په فکر کې مه راولئ، نن د امتحان زمانه ده، ډیر احتیاط کوئ، د خپلو استادانو سره ادب کوئ، دوی ته د پلار په نظر، بلکې تر پلار لا هم په لوړ نظر کورئ، استاذان ستاسو پلرونه دي، بلکې ستاسو تر پلرونو پې هم درجه لوړه ده، د استاذانو احترام ولرئ، دوی ستاسو روحاني پلرونه دي، ستاسو روحاني تربیه کوي، کبر مه کوئ، متکبرینو ته الله پاک علم نه ورکوي، په هغه زړه کې علم نه راځي چې په هغه کې کبر او لویې وي، تواضع او عاجزي کوئ، د استاد قدر کوئ، د مدرسې قدر کوئ، د ملګرو قدر کوئ، په کار ده چې په تاسو طالبانو کې ډیر ادب وي، د مدرسې د نظام ډیر خیال ساتئ.

وروسته مجلس نظام او خلکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لخوا د دعايې په لوستلو سره پایته ورسېد.

په پنجشېر کې د اوبو د ۱۰ بندونو جوړولو او بربښنا تولید سروې پیل شوه



پنجشېر سیمه‌ییز مسئولین وایي چې د اسلامي امارت د مشرتابه د حکم پر بنسټ، د دغه ولایت په بهلابهلو سیمو کې د اوبو د ۱۰ بندونو جوړولو او بربښنا تولید لپاره د سروې چارې رسماً پیل شوې دي.


د پنجشېر ولایت مقام رسنیز دفتر د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې دغه سروې د انرژۍ او اوبو وزارت د تخنیکي او انجنیري تیم له لوري، د سیمه‌ییزې اداري او اړوندو ریاستونو په همغږۍ پیل شوې ده. د سرچینې په وینا، د دغو بندونو سروې به په بام‌وردار کوتل، نودانګ، شانیز، قلعه‌تلخه او د شتل، پریان، حصه‌اول ولسوالیو او د پنجشېر په مرکز کې ترسره شي او د شته ظرفیتونو له ارزونې وروسته به د بربښنا تولید پروژو عملي چارې پیل شي.

سرچینې زیاته کړې چې تر دې وړاندې یوه خصوصي ترکي شرکت هم د پریان ولسوالۍ د بام‌وردار سیمې سروې کړې وه چې په کې د ۱۰ مېګاواټه بربښنا تولید ظرفیت تثبیت شوی و.

د خبرپاڼې له مخې، دغه راز په پنجشېر کې د صنعتي پارکونو جوړولو لپاره زر جریبه ځمکه هم وروستۍ شوې او تمه ده چې له دغو بندونو تولیدبدونکې بربښنا د یاد ولایت د اوسېدونکو او صنعتي پارکونو د اړتیاوو پوره کولو لپاره وکارول شي.

منبع: پژواک

خوست کې د څه باندې ۲۱ میلیونه افغانیو په لګښت د سړک او لښتیو جوړولو چارې پیل شوې



د خوست ښاروالۍ له لوري د دغه ښار په لومړۍ او درېیمه ناحیه کې د ۲۱ میلیونه، ۱۹۷ زره او ۹۰۵ افغانیو په لګښت د سړک او لښتیو جوړولو چارې پیل شوې.

د خوست ښاروالۍ تخنیکي او مسلکي آمر، باختر خبري آژانس ته وویل، چې دغه پروژه د ښار په لومړۍ او درېیمه ناحیه کې پلي کېږي، چې په ټولیز ډول د ۵۵۰ مترو په اوږدوالي د سړک اساسي جوړول او د ۹۰۰ مترو په اوږدوالي د لښتیو جوړول پکې شامل دي.

ورته مهال د خوست ښار یو تن اوسېدونکي، باختر خبري آژانس ته وویل، چې د دغه سړک په جوړېدو سره به د ښار ګڼه ګوڼه کمه، ښاري ښکلا زیاته او د ښار له یوې برخې څخه بلې ته د خلکو د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي.

د یادونې ده، چې خوست ښاروالۍ سږ کال د دغه ښار د پرمختګ، معیاري کېدو او ښکلا په موخه تر ۳۰ پورې بهلابهلې رغنیزې پروژې په پلان کې نیولې دي، چې په پلي کېدو سره به پې د ښاریانو ګڼې ستونزې هوارې شي.

منبع: باختر